# گوگل ډرایو څه شی دی؟

Ketabton.com

Google Drive

ليکوال: احسان الله محمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب په اړه:

| | |
|---|---|
| نوم: | ګوګل ډرایو څه شی دی؟ |
| لیکوال: | احسان الله محمدي |
| ترتیب کونکي: | احسان الله محمدي |
| پاڼې: | |
| پای نېټه: | د میزان ۱۰، ۱۳۹۹ هـ ش |
| بریښنالیک: | eu.mohammadi2022@gmail.com |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

- خپل ګران پلار ته، چې د خپلو اولادونو د زده کړو په بهیر کې یې معنوي او مادي مرسته کړې ده.
- خپلې ګرانې مور ته، چې غېږه یې زما د روزنې لومړۍ زانګو ده او د زده کړو په اوږد سفر کې یې تل په خپلو دعاګانو نازولی یم.
- خپلو خوږ هېواد والو ته چې د ټکنالوژۍ په اړه غوارې معلومات ترلاسه کړي.

په پوره مینه یې ورته ډالۍ کوم

(محمدي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لړلیک** **پاڼه**


**سریزه................................................................................................................ و**

**ګوګل ډرایو تاریخچه................................................................................................. 1**

**ګوګل ډرایو څه شی دی؟ ........................................................................................... 1**

**ګوګل ډرایو پیژندنه .................................................................................................. 2**

**Cloud Storage څه شی دی؟.......................................................................................... 4**

**ګوګل ډرایو کې څنګه کولای شو اضافي حافظه ترلاسه کړو؟ .............................................. 5**

**ګوګل ډرایو کې کوم شیان ذخیره کولای شو؟......................................................................... 5**

**څه ډول په ګوګل ډرایو کې یو فایل شریک کړو.......................................................................... 6**

**څه ډول کولای شو چې حذف شوي فایل ترلاسه کړو؟ ........................................................... 7**

**کوم سافټویر په ګوګل ډرایو کې موجود دی؟............................................................................ 7**

**د ګوګل ډرایو سرویس په لاندې ډول سره دی. ........................................................................ 8**

**Google Docs**........................................................................................................................ 8

**Google Slides**..................................................................................................................... 9

**Google Sheets** ................................................................................................................. 10

**ګوګل ډرایو کې فایلونه....................................................................................................... 10**

**ګوګل ډرایو څخه ګټه اخیستنه په ټیلفون یا کمپیوټر کې ............................................................ 11**

**د پلټنې برخه:**.......................................................................................................... 12

**New+ آیکون:** ........................................................................................................... 12

**زما ډرایو:**................................................................................................................ 13

**هغه فایلونه چې زما سره شریک شوي:** .............................................................................. 13

**ګوګل تصویرونه**............................................................................................................. 13

**نښاني شوي:**................................................................................................................ 14

**سطل:**...................................................................................................................... 14

**حافظه:**...................................................................................................................... 14

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Google Drive نورې برنامې ......... 15**

**د برنامه اضافه کولو لپاره لاندي ټکي په نظر کې ونیسي ......... 15**

**ZIP Extractor** ......... 16

**PDF Mergy** ......... 16

**د جیمیل اکونټ جوړونه او ګوګل ډاریو کې ثبت نام ......... 16**

**د جیمیل اکونټ جوړونه ......... 18**

**پایله ......... 20**

**اخذلیکونه ......... 21**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د الله پاک د بې شمېره احسانونو څخه یو هم علم دی، چې موږ ټولو انسانانو ته یې پېرزو کړی. علم د ټولنې رڼا ده، علم هغه واک دی چې انسان تر خپل منزل پورې رسوي. خلاصه ویلي شم چې د علم په مرستې سره خپل لوی رب په ښه ډول پیږندلي شو.علم د دنیا او آخرت د نېمکرغي سبب کیږي. بې علمه انسان تیاره کور ته ورته دی چې هېڅوک به د تګ راتګ لار پکې پیدا نکړي.
نو ما هم و غوښتل چې د خپل مسلک سره سم خپلو هېوادوالو لپاره د ټکنالوژۍ په برخه کې یوه ناچېزه ډالۍ وړاندې کړم. تاسو یواځې په دغه کتاب بسنه مه کوئ، مخ ته لاړ شئ، نور اضافي معلومات ترلاسه کړئ او مطالعه یې کړئ. دا کتاب تاسو لپاره یواځې د پرمختګ یو رهنما دی.

ګوګل ډرایو د ګوګل کمپنۍ تر ټولو پیاوري آنلاین اپلیکشین دی، چې د ډیټا ذخیره کولو سرویس یا خدمات پیرودونکو ته وړاندې کوي. پیرودونکي کولي شي چې ډېر په آساني دغه حافظې ته لاسرسي ولري.

هر ځای هر وخت د انټرنیټ په شتون کې، تاسو کولي شي چې خپله مهمه او اړینه ډیټا په لوړ امنیت سره په دغه حافظه کې ذخیره کړي. ګوګل ډرایو ته د لاسرسي لپاره لومړۍ تاسو باید جیمیل اکونټ یا ګوګل اکونټ ولري ورسته تاسو ته ګوګل ډرایو 15GB حافظه په وړیا ډول درکوي تر څو تاسو ګټه ترې واخلي نور تفصیلات په کتاب کې ویلي شئ. هېله مې دا ده چې تاسو لپاره ګټور تمام شي دا کوچنۍ کتاب.

که چېرې وګورو په پښتو ژبه کې لیکنې هم کمې تر ستوګو کیږي، نو ځکه مې وغوښتل چې په پښتو ژبه یې ولیکم. که چېرې زما څخه کومه کمي پکې شوی وي نو تاسو درنو لوستونکو څخه بخښنه غواړم او زما کوښښ دا دی تر څو نور داسې کتابونه ولیکم چې د هېواد د پرمختګ په ډګر کې نور هم ګټور تمام شي.
تاسو د نېکو مشورو او دعاګانو په هیله!

### احسان الله «محمدي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګوګل ډرايو تاريخچه

ګوګل ډرايو، هغه ځای چې د معلوماتو د ذخيره کولو لپاره استماليږي. په ۲۰۱۲م کال کې د ګوګل کمپنۍ لخوا رامنځته شو. تر څو يوزر يا مشتريان يې وکولای شي چې خپل فايلونه د دوي په سرورو کې ذخيره کړي تغيرات پکې راولي او همدارنګه خپل فايلونه د ملګرو سره شريک کړي.

ګوګل ډرايو اپلکيشن کولای شو چې په ويندوز او مک عامل سيستم کې استمال کړو، همدارنګه په اندورايد او IOS کې هم ترې ګټه اخستي شو.

تر ۲۰۱۷م کال پورې ګوګل ډرايو ۸۰۰ ميليون فعال يوزر لرل، او د همدې کال تر ورستيو پورې دوه ټريليون پورې فايلونه پکې ذخيره شوي و.

## ګوګل ډرايو څه شی دی؟

ګوګل ډرايو "Google Drive" يا د ګوګل خدماتي سرويس، يوزر يا استمالونکي کولای شي چې په ډيجيټال ډول خپل اطلاعات ذخيره کړي.

ګوګل تر ټولو پياوړي آنلاين د ذخيره کولو سرويس وړاندي کوي خپلو استمالونکو لپاره، تر څو د هر ځای څخه د انټرنيټ په مرسته خپلو فايلونو ته لاسرسي ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوګل استمالونکي کولای شي چې د خپل اکونټ په جوړولو سره ۱۵ جی بی وړیا حافظه ترلاسه کړي، تر څو خپل فایلونه هلته په مطمعین ډول ذخیره کړي چې د اړتیا په صورت کې نوموړي حافظه زیاتولی هم شي.


## ګوګل ډرایو پیژندنه

| | |
|---|---|
| د سایټ ډول | فایل هاستینګ سرویس |
| مالک | ګوګل کمپنۍ |
| URL | drive.google.com |
| ثبت نام | اړین دی |
| مشریان یا یوزر | |
| رامنځته کیدو نیټه | ۲۴ اپریل ۲۰۱۲م کال |
| اندوراید سیستم لپاره نوي ورژن | **2.20.061.04** |
| IOS سیستم لپاره نوي ورژن | **4.2019.42202** |
| لیکل شوي په | پایتون ژبه کې |
| کار کولای شي په | ویندوز، مک، اندوراید او **IOS کې** |
| لایسنس | وړیا |
| ویپسایټ | **WWW.google.com/drive/** |

ګوګل ډرایو "Google Drive" د ګوګل تر ټولو مشهور او محبوب سرویس څخه عبارت دی. چې د Cloud Storage په اساس فعالیت ترسره کوي، او خپلو استمالونکو لپاره دا وړتیا برابروي، تر څو خپل هر ډول ډیجیټال فایلونه پکې ذخیره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه استمالونکي کولای شي چې خپل فایلونه مدیریت کړي، تغیرات پکې راولي، شریک یې کړي، هر ډول فایل د مختلف فارمټ سره مثال په ډول صوتي، تصویري، ویدیویې، ګرافیک او مهم اسناد آپلوډ او ډانلوډ کړي.



تاسو کولای شئ چې په ګوګل ډرایو کې پروژه رامنځته کړي او د نړۍ هرې برخې څخه په ټیمي ډول کار ترسره کړي او خپله پروژه مدیریت کړي.

ګوګل ډرایو ټول محدودیتونه لرې کړي، تر څو تاسو په آساني سره یوائې د انټرنیټ په مرسته خپلو فایلونو ته لاسرسي ولري او مدیریت یې کړي.

ټول هغه استمالونکي چې ګوګل حساب (Gmail) لري، کولای شي چې د ګوګل ډرایو له سرویس څخه ګټه پورته کړي او د خپل کار په لومړیو کې ۱۵ جی بی حافظه ترلاسه کړي په وړیا ډول او د اړتیا په صورت کې دغه حافظه زیاتولي هم شي خو د حافظه زیاتوالي به هزینه هم ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه په آساني سره کولای شو، چې خپل فایلونه په مختلفو برخو کې شریک کړي یواځې د یوه ساده لینک په مرسته.

## Cloud Storage څه شی دی؟

موږ ټول پوهیږو چې اطلاعات څه ډول ذخیره کیږي. مثلا په هارډیسک کې(Hard disk)، میموري، سی ډی(CD) ، ډی وي ډی (DVD)، د ټلیفون حافظه او داسې نور دا ټول په ډیجیټال ډول د ذخیره کولو تګلاري دي.

خو د ټکنالوژی په پرمختګ سره ډیر حجم یا حافظې ته هم اړتیا شته، نور هغه سنتی ډولونه ځواب ویونکې نه و نو د همدې دلیل په اساس Cloud Storage پیشنهاد شو او پرمختګ ورکړل شو.

Cloud Storage ساده تعریف په دې ډول دی، ټول هغه سرور چې یو بل سره په یوه واحد ځای کې وصل وي او همیشه د انټرنیټ په مرسته نامحدوده حافظه د ذخیره کولو لپاره وړاندې کوي تر څو د هر ځای څخه ورته لاسرسي وشي Cloud Storage ویل کیږي.

ټول کسان کولای شي چې دغه حافظې څخه د خپلو اطلاعاتو د ذخیره کولو لپاره ګټه استمال کړي. تاسو کولای شي چې ډیر په آسانی سره د خپل کمپیوټر، ټلیفون، ټبلیټ او داسې نورو دستګاه و په موجودیت کې د انټرنیټ په مرسته لاسرسي ولري.

مشهور Cloud Storage عبارت دی له One Drive, Google Drive, Dropbox, iCloud.

Cloud Storage تر ټولو مهمې ګټې، همیشه لاسرسي ، لوړ امنیت درلودل او همدارنګه نامحدوده حافظه ویلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګوګل ډرایو کې څنګه کولای شو اضافي حافظه ترلاسه کړو؟

موږ په لومړیو کې وویل چې کله تاسو ګوګل حساب جوړ کړ، نو ۱۵ جی بی حافظه په وړیا ډول سره درکول کیږي او د اړتیا په صورت کې دغه حافظه زیاتولي هم شو خو هزینه به ولري.

کله چې تاسو تصمیم ونیو چې اضافي حافظه ترلاسه کړي، نو په آساني سره کولای شي چې د خپل ګوګل ډرایو پنل برخې لاړ شي او هلته نور هدایات شته.

ګوګل ډرایو ډول ډول پیشنهادونه لري د اضافي حافظې لپاره چې تر ټولو کم یې ۱۰۰ جی بی حافظه ده او میاشتني فیس به ورکوي، ۳۰ ترابایټ پورې اضافي حافظه ترلاسه کولای شي.

## ګوګل ډرایو کې کوم شیان ذخیره کولای شو؟

لکه څنګه مو چې وویل هر ډول فایلونه چې په کمپیوټر او یا ټلیفون کې ذخیره کیږي هغه کولای شو په ګوګل ډرایو کې هم ذخیره کړو.




اوس مهال ۳۰ نه ډیر مختلف ډول فایلونه په ګوګل ډرایو کې ذخیره او مدیریت کولای شو.

عکس، فیلم، متن، صوت، ګرافیک فایلونه، مایکروسافټ آفیس فایلونه، آډوب فوتوشاپ فایلونه، د اپل فایلونه، PDF، اتوکد فایلونه، اتوډسک، فونټ، د سیم کارت مخاطبین او داسې نور هغو فایلونو له جملې څخه دی چې په ګوګل ډرایو کې ذخیره کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## څه ډول په گوگل ډرایو کې یو فایل شریک کړو

My Drive مینو ته لاړ شئ او هر فایل چې غواړئ شیر یا شریک کړي راست کلیک پرې وکړي.

تاسو ته یوه مینو خلاصیږي کولای شي چې په دوه طریقو خپل فایل شریک کړي.

لومړي: د Share بټن په مرسته

دوهم: د لینک په مرسته یې هم شریک کولای شي

که چیرته د لومړي شیر څخه گټه اخلي نو باید د مقابل شخص ایمیل آدرس ولري تر څو فایل ورسره شریک کړي او دوهم ډول کې بیا کولای شي چې د لینک په مرسته فایل لینک را واخلي هغه د اجتماعي شبکو په مرسته شریک کړي. کله چې مقابل شخص لینک ترلاسه کړ په لینک باندې دې کلیک وکړي فایل د ډانلوډ او خپل ځان سره دی وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څه ډول کولای شو چې حذف شوي فایل ترلاسه کړو؟

که چیرته مو د ګوګل ډرایو څخه کوم فایل حذف کړي وي. د خپګان خبره نه ده تاسو کولای شي چې خپل فایل بیرته ترلاسه کړي. دغه کار د ترسره کولو لپاره سطل ته ورته نښان ته ورشي، هلته کوم فایلونه چې تاسو حذف کړی موجود دی لیدلی شي.


د فایل بیرته ترلاسه کولو لپاره تاسې کولای شي چې په فایل باندې راست کلیک وکړي او Restore بټن ووهي تر څو فایل مو بیرته خپل ځاي ته لاړ شي.

که چیرته غواړي چې فایل د تل لپاره حذف شي نو په فایل باندې راست کلیک وکړي او Delete Forever بټن انتخاب کړي تر څو فایل د تل لپاره حذف شي.

## کوم سافټویر په ګوګل ډرایو کې موجود دی؟

سربیره پر دې چې په ګوګل ډرایو کې د آپلوډ، ډانلوډ او شریک کولو لپاره ابزار یا Tools شتون لري. دغه ډول سرویس یا خدمات د نورو مختلفو خدماتو سره په تعامل کې دي مثلا ګوګل ډاکس، ګوګل شیتس، ګوګل اسلایډز او ګوګل فوتوز تر څو استمالونکي وکولای شي چې په آنلاین توګه خپل اطلاعات مدیریت او تغیرات پکې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




لکه څنګه چې معلوميږي ډاکس، شيتس او اسلايدز سرويس د ورد، ايکسل او پاورپوينټ اصلي رقيبان دي.او همدا راز دغه سرويس هر يو خپل ځانګړې سايټ لري خو د ګوګل ډرايو سره هم په تعامل کې دی او استمالونکي کولای شي چې دغه ډول سرويس څخه د اړتيا په صورت کې ګټه واخلي.

### د ګوګل ډرايو سرويس په لاندې ډول سره دی.



## Google Docs

د ګوګل ډرايو دغه سرويس په حقيقت کې د مايکروسافټ ورد لپاره ځواب ويونکي دي. لکه څنګه چې پوهيږي مايکروسافټ ورد يو تر ټولو مشهور او محبوب سافټوير دی د متن د مديريت لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوګل ډاکس هم د مایکروسافټ ورډ په شان دا وړتیا برابره کړي ده چې استمالونکي وکولای شي ټایپ ترسره کړي، تغیرات راولي، افکټ جوړ کړي، فونټ استمال کړي، لینک جوړ کړي، او شریک کړي خپل فایلونه د نورو اشخاصو سره.

دغه دواړه سرویس د یو بل سره تعامل لري که چیرته مو فایل په مایکروسافټ ورډ کې جوړ کړي وي نو کولای شي چې په ګوګل ډاکس کې خلاص کړي او تغیرات پکې راولي، او برعکس یې هم ترسره کولای شي.

Docs فایل کې کولای شو چې تر 1.02 میلیون پورې حروف ځای پر ځای کړو دغه Docs فایل کې چې هر څومره صفحې راځي او په هر سایز چې وي فرق نه کوي.

Docs فایل باید د 50MB نه لوی نه وي او همدارنګه د تصویر سایز هم د 50MB نه لوی نه وي.

## Google Slides

کوم کارونه چې په مایکروسافټ پاورپوینټ کې ترسره کیږي هغه کولای شو چې په ګوګل اسلایډز کې هم ترسره کړو. دغه سرویس یا خدمت هم د مایکروسافټ پاورپوینټ سره په تعامل کې دي او کولای شو چې ډیر په آساني سره خپل اسلایډونه جوړ کړو، تصویرونه وراضافه کړو، فونټ پکې استمال کړو او داسې نور کارونه، کولای شو دا ټول کارونه په آنلاین توګه هم ترسره کړو.

دغه سرویس په مرسته پاورپوینټ فایلونه لیدلي شو او تغیرات هم پکې راوستلي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Google Sheets

تاسو به د ایکسل سافټویر سره آشنا وي نو دغه سرویس بیا د مایکروسافټ ایکسل سره ارتباط لري. Google Sheets د مایکروسافټ ایکسل په شان جوړ شوي دي، چې تاسو په آساني سره وکولای شي چې خپله ډیټا په ټیبل کې اضافه کړي او یا مختلف ډول ډول ګرافونه ورته جوړ کړي، ډیټا تحلیل او تجزیه کړي، او نورو ملګرو سره یې شریک کړي. تاسو په آسانی کولای شي چې د کمپیوټر او یا ټیلیفون له لاري دغه سرویس یا خدمت ته لاسرسي ولري او په ټیمي ډول سره کار ترسره کړي.

## ګوګل ډرایو کې فایلونه

ګوګل ډرایو کې لاندې ډول فارمټ سره فایلونه کتلي شو.

| | |
|---|---|
| Native یا محلی فارمټ | Docs, Sheets, Slides, Forms, Drawings |
| تصویر برخه | JPEG, PNG, GIF, TIFF, BMP, WEBP |
| ویډیو برخه | WEBM, MPEG4, 3GPP, MOV, AVI, MPEG, MPEGPS, WMV, FLV, OGG |
| غږ برخه | MP3, M4A, WAV, OGG |
| Text فارمټ | TXT |
| مارک اپ یا کوډ برخه | CSS, HTML, PHP, C, CPP, H, HPP, JS |
| مایکروسافټ ورډ | DOC, DOCX |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| XLS, XLSX | مایکروسافټ ایکسل |
| PPT, PPTX | مایکروسافټ پاور پوئنټ |
| PDF | Adobe Portable Document |
| PAGES | Apple Pages |
| AI | Adobe Illustrator |
| PSD | Adobe Photoshop |
| DXF | Autodesk AutoCAD |
| SVG | Scalableوکتور گرافیک |
| EPS, PS | PostScript |
| PY | پایتون ژبه |
| TTF | فونټ |
| XPS | XML Paper Specification |
| ZIP, RAR, tar, gzip | Archive |
| | MTS فایلونه |
| | Rawفارمټ سره تصویرونه |

## ګوګل ډرایو څخه ګټه اخیستنه په ټیلفون یا کمپیوټر کې


ګوګل کار ډیر آسانه کړي اوس تاسو کولای شي چې یواځې د یو بروزر په مرسته هغه که په کمپیوټر کې وي یا په ټلیفون کې ګوګل خدماتو څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثلا گوګل کروم په خپل کمپیوټر یا ټلیفون کې انسټال کړي او اصلي صفحې ته تګ سره تاسو ته یو آیکون مخ ته راځې چې د ګوګل ډرایو آیکون دي کلیک پرې وکړي تر څو خلاص شي.

معمولا په اندروید ټلیفون کې مخکې له مخکې ګوګل ډرایو انسټال وي. که انسټال نه و نو کولای شي چې له پلی سټور څخه يې ډانلوډ کړي او خپل ټلیفون کې انسټال کړي.

کله چې تاسو ګوګل ډرایو ته داخل شوي نو تاسو لپاره د مدیریت ډیر څه شته چې خپل ګوګل ډرایو مدیریت کړي.




## د پلټنې برخه:

دغه برخه کې تاسو کولای شي چې خپل فایلونه یا فولډر د نوم پر اساس وپلټي یا پیدا کړي. عموما دغې برخې ته د پلټنې برخه ویل کیږي.

## +New آیکون:

دغه برخه کې تاسو کولای شي چې فولډر جوړ کړي یا هم فایل آپلوډ یا ډانلوډ کړي. او همدارنګه کولای شي چې د ډاکس، شیټس او اسلایډز لپاره نوي فایل جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زما ډرایو:


دغه برخه تاسو ته دا وړتیا درکوي تر څو خپلو فایلونو ته لاسرسي ولري. هغه فایلونه چې تاسو مخکې ډاریو ته آپلوډ کړي هغه وګوري یا تغیرات پکې راولي. او همدارنګه تاسو کولای شي چې په فایل باندې کین کلیک وکړي او خپل فایل کې تغیرات راولي، شریک یې کړي یا هم حذف کړي. My Drive تاسو د فایلونو اصلي مرکز دي.

## هغه فایلونه چې زما سره شریک شوي:

دغه برخه کې هغه فایلونه چې تاسو د کورنۍ غړو، ملګرو یا همکارانو سره شریک کړي وي ښودل کیږي. ویل کیږي چې تاسو ملګري تاسو فایلونو ته په هیڅ ډول لاسرسي نشي موندلي او یواځې هغه پروژې کتلي شي چې تاسو شریکې کړي وي.

## ګوګل تصویرونه

دغه برخه مستقیما تاسو د ګوګل فوټوز خدماتو سره وصلوي کولای شي چې خپل عکسونه او ویدیوګانې وګوري او مدیریت یې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## نښاني شوي:

بعضي فایلونه تاسو لپاره ډیر مهم وي نو کولای شي هغه نښاني کړي یعنی د ستوري نښان پرې ولګوي دغه برخه کې هغه فایلونه چې تاسو لپاره ډیر اهمیت لري وګوري او مدیریت کړي.


## سطل:

دغه ځای کې هغه فایلونه چې تاسو حذف کړي، دلته شتون لري او تاسو حذف شوي فایلونه تر اوسه په دایمي ډول نه دي حذف شوي، او په آساني کولای شي چې ورسته خپل فایلونه بیرته ترلاسه کړي او یا هغه فایلونه چې په خطایی سره حذف شوي ترلاسه کړي.

## حافظه:

دغه ځای کې کومه حافظه چې مصرف شوي او خالی پاتي ده ښودل کیږي او خپلې حافظې ته ارتقا هم ورکولای شي.

لاندې تصویر ته ځیر شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## Google Drive نورې برنامې

تر ټولو مهمه ګټه د ګوګل ډرایو دا ده چې سربېره پر دې چې د مایکروسافټ آفیس له پروګرامونه سره مرسته کوي چې یو ځای کار ترسره کړي. همدارنګه کولای شي چې نورو مهمو برنامو سره یو ځاي کار ترسره کړي.

او یواځې د یو کلیک په ترسره کولو سره کولای شي چې د خپلې خوښې برنامه ور سره یو ځاي کړي.

## د برنامه اضافه کولو لپاره لاندې ټکې په نظر کې ونیسي

- د ګوګل ډرایو په اصلي صفحه کې په New آیکون باندې کلیک وکړي او More برخې ته لاړ شي.
- آخري برخې ته لاړ شي او هلته په Connect More Apps باندې کلیک وکړي.
- یوه نوې صفحه خلاصیږي او دلته مختلف ډول برنامې شتون لري او د خوښې برنامه مو سرچ کړي او Connect کلیک پرې کړي تر څو ورسره وصل شي. په دومره ساده ګي سره تاسو کولای شي چې ډول ډول برنامې خپل ګوګل ډرایو سره وصل کړي او د خدماتو څخه یې ګټه پورته کړي.

دلته به تاسو لپاره یو څو برنامې معرفي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ZIP Extractor

دغه برنامې په مرسته کولای شو چې ZIP فایلونه عادی فایلونو ته بدل کړو او همدارنګه کولای شو چې Compression او Encryption هم ترسره کړو. بعضي وخت پیښیږي چې موږ یو ډیر لوی فایل کوچینو فایلونو ته تقسیم کړو تر څو په آساني سره وکولای شو چې هغه ګوګل ډرایو ته آپلوډ کړو نو د دې کار ترسره کولو لپاره د ZIP Extractor څخه ګټه اخلو.

## PDF Mergy

که څه هم ګوګل ډرایو مخکې له مخکې PDF فایلونه حمایت کوي خو بیا هم دغه برنامه نور ډول ډول خدمات وړاندې کوي. دغه برنامې په مرسته کولای شي چې خپل PDF فایل کې تغیرات راولي او څو دانې PDF فایلونه سره یو ځای کړي، دغه برنامه نور مهم خدمات هم وړاندي کوي.

## د جیمیل اکونټ جوړونه او ګوګل ډاریو کې ثبت نام


تاسو ډیر په ساده ډول کولای شي چې جیمیل اکونټ جوړ کړي. او په اصل کې تاسو مهم کار همدا اکونټ جوړونه ده، یواځې تاسو باید خپل کمپیوټر یا ټلیفون Sync کړي، هغه نه ورسته تاسو د هر ډول بروزر په مرسته د ګوګل خدماتو څخه ګټه اخستي شي.

- د ګوګل اکونټ جوړولو لپاره لاندي آدرس ته لاړ شي **«/https://accounts.google.com» signup**
- خپل معلومات مو سم ډول اضافه کړي تر څو ورسته بیا د کوم مشکل سره نه مخامخ کیږي.
- استمالونکي نوم تاسو هماغه جیمیل اکونټ نوم دی چې ډیر په دقت سره یې انتخاب کړي چې ورسته بیا اړتیا نه وي چې بدل یې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- امکان لري کوم نوم چې تاسو جیمیل اکونټ ته انتخابوي هغه پخوا نورو کسانو انتخاب کړي وي نو کوښښ وکړي چې د اعداد سمبول او یا کوم نومونه چې ګوګل ته پیشنهاد کوي انتخاب کړي، کنه نو تاسو تکراری نوم به ګوګل قبول نه کړي او خطا موجب کیږي.
- کوښښ وکړي چې یو مناسب او دقیق پاسورډ انتخاب کړي چې ورسته مو له یاده وونوځي، داسې پاسورډ انتخاب کړي چې حروف، اعداد، سمبول او داسې نور شیان پکې موجود وي تر څو پاسورډ مو څوک پیدا نشي کړي.
- په یاد ولري چې تاسو استمالونکي نوم او پاسورډ کې فاصله نه قبلیږي، نشي کولای چې فاصله ورکړي.
- ټول فیلډونه په دقت سره ډک کړي او مخته لاړ شي تر څو تاسو ګوګل اکونټ جوړ شي.

دا له یاده مه وباسي چې تاسو جیمیل اکونټ پاسورډ ډیر مهم دی کوښښ وکړي چاته يې مه ورکوي تر څو تاسو هغه محرم اطلاعات چې په ګوګل ډرایو کې موجود دی چاته لاسته ورنشي. خپل پاسورډ څخه لکه تاسو د بانک اکونټ پاسورډ په شکل ساتنه وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جیمیل اکونټ جوړونه

### لومړۍ مرحله: ګوګل

اړتیا ده چې لومړی ګوګل سایټ ته داخل شئ په دې توګه account.google.com

### دوهمه مرحله: شخصي معلومات

شخصي معلومات مو پدې برخه کې ولیکې مثال په ډول خپل نوم، تخلص، خپل یوزر نوم چې ورسته بیا خپل اکونټ ته د دغه نوم په مرسته داخلیدلي شئ، پاسورډ او بیا ځلې د اطمینان لپاره چې پاسورډ مو سم دی ولیکي او مخ ته لاړ شئ.

### دریمه مرحله: فون یا موبایل شمیره

خپل د ټلیفون شمېره مو ولیکئ د تاییدي لپاره.

## څلورمه مرحله: فون نمبر مو تصدیق کیږي

هغه کوډ چې تاسو ټلیفون شمېرې ته لیږل کیږي هغه تاییدي کوډ دی چې آیا دا شمېره د تاسو ده او که نه، هغه کوډ ورته ولیکئ تر څو تاسو تصدیق شئ.

## پنځه مرحله: زږیدو نیټه


خپل نور معلومات ورته اضافه کړئ مثال په ډول د زږیدو کال او جنسیت مو، ورسته مخ ته لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږمه مرحله:

ګوګل تاسو ته وايي چې آيا تاسي زموږ د سرويس او Privacy پاليسي قبلوي.

نو دغه برخه ټيک مارک کړي تر څو تاسو جيميل اکونټ جوړ شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

ګوګل ډرایو "Google Drive" د ګوګل تر ټولو مشهور او محبوب سرویس څخه عبارت دی. چې د Cloud Storage په اساس فعالیت ترسره کوي، او خپلو استمالونکو لپاره دا وړتیا برابروي، تر څو خپل هر ډول ډیجیټال فایلونه پکې ذخیره کړي.

دغه کتاب کې مو لومړی ګوګل ډرایو په اړه معلومات ترلاسه کړل، هغه نه ورسته Cloud Storage په باره کې، ورسته د جیمیل اکونټ او کوم ډول معلومات موږ په ګوګل ډرایو کې ذخیره کولي شو.

نو درنو لوستونکو

تاسو یواځې په دغه کتاب اکتفا مه کوي مخ ته لاړ شي نور اضافي معلومات ترلاسه کړي او مطالعه یې کړي دا کتاب تاسو لپاره یواځې یو رهنما دی د پرمختګ لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخذلیکونه

ګوګل ډرایو څه شی دی؟ لیکوال: مهران منصوری فر

Pichai, Sundar (April 24, 2012). "Introducing Google Drive... yes, really". Official Google Blog. Google. Retrieved January 16, 2017

Gallagher, Sean (June 29, 2012). "Hands-on with the Google Drive for iOS app: mostly read only" . Ars Technica. Condé Nast. Retrieved March 18, 2017

Files you can store in Google Drive" . Drive Help. Google. Retrieved October 22, 2016

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**